# زېری

پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ▣ ۱۳ – ۱۴ مه گڼه ▣ دربیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۳ - ۲۱۴ مه گڼه ▣ ۱۳۹۳ لمريز کال د تلې ۳۰ مه ▣ ۱۴۳۵ هـ ق کال د ذوالحجې ۲۷ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د اکتوبر ۲۲ مه


زړه هغه دی چې لري د عرفان برخه
دغه ښه ده پر دنیا د انسان برخه
هغه زړه چې نه يې مهر نه عرفان وي
وړي په ژوند کې د ناچيزه حيوان برخه

"محمد اياز نيازی"

ادبي بحثونه:

## متنپوهنه؛ د ادبپوهنې ځانګړې څانګه

(۱)


څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي


د متن پوهنې په اړه د بحث پيلامه د متن په لغوي او اصطلاحي پېژندنې سره کوو:

د لغاتو په فرهنګونو کې يې د متن له پاره: شا، د يو څه دننه، لوړه ځمکه، د کتاب صفحې داخل، د حاشيې او څنډې مقابل، خو هغه تعبير چې دلته زمونږ له اصلي موضوع سره تړاو لري، دا دی چې متن د کتاب يا مکتوب اصلي عبارت ته وايي، د شرح او حاشيې مقابل، د هر شي منځ، د متن جمعه متون راځي.(۱)

په اصطلاحي لحاظ د متن له پاره ځينې پېژندنې وړاندې شوې دي.

په يوې پېژندنې کې لولو:

"هر تر غور لاندې تحرير او تقرير ته متن ويل کېږي، د شاعر شاعري، د نثر ليکونکي نثر، د مؤرخ تاريخ، د مکتوب نګار ليک (خط)، د منصف فيصله، د مفتي فتوا، د خطيب خطبه، دغه ټول د متن تر سرليک لاندې راځي."(۲)

د پښتو ادبياتو اصطلاحي قاموس د متن پېژندنې په اړه ليکي:

"متن د لوړې ځمکې په معنا دی او په اصطلاح کې د وينا يو ليکل شوي اثر ته متن وايي، يا متن هر ډول ليکل شوې وينا ته وايي."(۳)

په يوې بلې پېژندنې کې راغلي:

"متن د کتاب اصلي برخه، چې له حاشيو او شرحو څخه بېله وي او د کتاب اصلي کلمات، چې بل چا بدلون په کې نه وي راوستی."

خو متنپوهان بيا په دې ډول پېژندنه نيوکه کوي او وايي، په دې پېژندنه کې د اصلي عبارت يا د کتاب اصلي برخه راوړل سمه خبره نه ده، دا ځکه چې د يوه اثر په عباراتو کې هر څومره تبديلي راغلې وي، بيا هم د متن له تعريف نه شي وتلای، بله خبره دا چې حاشيې او ضميمې او شروح ټول د متن په تعريف کې شامليږي، نو ځکه کله چې د ادبپوهانو په مباحثو کې پر متن خبرې کېږي، هلته وايي د شاعر شعر، د نثر ليکونکي نثر، د قاضي فيصله، د مفتي فتوا، د خط ليکونکي خط او لنډه دا چې هره ليکنه متن بلل کېږي.

يو وخت يوازې ادبي آثار متون ګڼل کېدل، مګر وروسته متنپوهانو دا خبره تصحيح کړه، بلکې ټول آثار چې په هره موضوع ليکل شوي وو، په متنونو کې وشمېرل، لکه: تاريخي، جغرافيايي، فلسفي، د اجتماعي علومو او طبيعي علومو ټول آثار.

**د متن ځانګړنې:**

متنپوهانو د متن له پاره ځينې ځانګړنې ښودلې دي، چې دلته يې په لنډيز سره در پېژنو:

۱ - د متن تر ټولو مهمه او لومړنۍ ځانګړنه ليک دی. په دې معنا چې شفاهي څېزونه په متن کې نه راځي، لکه ولسي سندرې، کيسې، متلونه او نور تر هغه پورې چې ليکل شوي نه وي، متن نه ګڼل کېږي.

۲ -متن د زوړوالي او نويوالي تابع نه دی، هر زوړ او نوی ليکلی اثر متن ګڼل کېږي. يو وخت يوازې زاړه او کلاسيک آثار متن ګڼل کېدل، خو اوس دا نظريه باطله ده.

۳ متن په لږ، وډېر، کوچني او لوی دواړو اطلاق کېږي، د خوشحال کليات هم يو متن دی او د خان عبدالغفار خان يو کوچنی ليک هم د متن تر سرليک لاندې مطالعه کېدای شي.

۴ -متن خطي (ناچاپ) هم دی او چاپ شوی هم، يوازې خطي نسخې متون نه دي، که هغه چاپ هم شي، متن ګڼل کېږي.

۵ -د متن تر ټولو مهمه ځانګړنه بامعناتوب دی. په بله وينا: متن بايد مفهوم ولري، بې مفهومه ليکنې ته متن نه ويل کېږي، له بامعناتوب شرط سره سره، چې پوهانو متن له پاره ټاکلي دي، ځينې نور شکلونه هم شته چې له ځانګړي مفهوم نه لرلو سره سره، متن ګڼل کېږي، لکه اعداد، ارقام، نخښې، د ښارونو او ځايونو نومونه، ببيلوګرافي او نور... د دغه ډول آثارو متني حيثيت ثابت دی.(۴)

**د متن ډولونه:**

په عامه توګه متن دوه ډوله دی: منظوم متن او منثور متن، نو ويلای شو چې:

د نظم او نثر په بېلابېلو کالبونو او ژانرونو کې بيان شوي ټول موضوعات متون بلل کېږي. دا چې په ټولو علومو کې د څېړنو بنسټ پر متونو ولاړ دی، د اطلاعاتو او معلوماتو ستري او عمده سرچينې همدا متون دي، نو له همدې څخه يې لوړ ارزښت او اهميت څرګندېږي.

د متن د پېژندنې په اړه له دې مقدماتي خبرو وروسته، اصلي موضوع ته راځو او متن پوهنه د ادبپوهنې د يوې فرعي څانګې په توګه درپېژنو. د "فرهنګ ادبيات پښتو" دريېم ټوک ليکوال د متنپوهنې د پېژندنې په اړه ليکلي دي: "متنپوهنه د ادبپوهنې يوه فرعي څانګه ده، چې د متنونو د احياء په اړه څېړنې


څلورم مخ


## د غرېزي او اشاروي ژبې تر منځ توپيرونه


څېړنوال محمد نبي صلاحي

# لنډۍ د استاد ګل پاچا الفت له نظره

✲ څېړنپوه علي محمد منګل

سر د کتابه که راپورته
په سترګو رونډ شې په کتاب در وختمه

د پښتو په ولسي او فولکوري سندرو، شعرونو او نظمونو کې، چې څوک څېړنه کوي؛ دا بې له شکه د لمر غونډې ور معلومېږي، چې یواځې او یواځې ټیکی، ټپې، مسرۍ او لنډۍ په جوته سره دا ځانګړتیا لري، چې د هیجا او سپلاب په رنګین رنګ او برخه کې هېڅکله د نورو اشعارو او نظمونو په شان په خپل شکل او فورم کې زیاتوالی او کموالی نه لري او نه په کې راتلی شي. د هرې لنډۍ لومړۍ برخه او نیم بیتی نهه سپلابونه لري او دوهمه برخه او نیم بیتي یې د تل له پاره له دیارلسو سپلابونو څخه روغ شوی وي. که له دغه حال او رنګ څخه په کې بدلون او تغییر رامنځ ته شي، نو د آرې او اصلي لنډۍ خوند، رنګ او ښایست او ادبي زړه پاروونکې تومنه نه په کې پاتې کېږي. د لنډۍ د غوره او دراندہ ملي شعر په برخه کې، یو شرط او رنګیني دا هم ده، چې دا یو بیتیز شعر به خامخا، چې له نهو او دیارلسو سپلابونو څخه را روغ شوی دی، د تل له پاره به د "مه: او "نه" په تورو سره ختم شوی وي، که چېرې دغه رنګ او بڼه و نه لري، نو بیا ورته لنډۍ، ټیکی، ټپه، سندره او مسرۍ نه ویل کېږي، ځکه د لنډۍ خوند او ښایست نه په کې پاتې کېږي او نه به ادبي خوند لري، لکه دا ټیکی:

زړه مې د تورو وینو ډنډ دی
که غرغرې کم ملک به سور په وینو کمه
***
سترګې دې زړه ته رانږدې که
چې په کې وورینې د سرو وینو ډنډونه
***
تورو خاورو کې به ناري کړم
زه د دنیا نه ارمانجمن راغلی یمه
***
ګل د ګلاب، بوی د سینځلې
سپره د ولې، خوب د پېغلې په ورنونه

د لنډیو د ادبي ادا، غوره والي او ارزښت په اړه خبرې ډېرې دي، چې زموږ د مشرانو او اتلولیو استادانو او نومیالیو پوهانو یې په اړه پوره څرګندونې کړې دي...

موږ به دلته، د معاصرې پېړۍ د وتلي نوماند شاعر، ستر ادیب او د پښتو ادب ډېر پاخه لیکوال، د کڅ د ګل؛ ګل پاچا الفت له نظره د پښتو لنډیو په اړه څو دراندہ ټکي، د ده

درېیم مخ



# یو تلپاتې یاد!

⦿ استاد حبیب الله رفیع

وایي "د ښې غوټۍ ښه ښوراوي" ده هم په یوه علمي او ادبي کورنۍ کې سترګ غړولې وې، له ماشومتوب نه وهڅول شو، چې علم زده کړي او ورسره د ادب په حسینه، مهینه، رنګینه او ګلورینه سیمه ورګډ شي؛ سالم او وړ محیط او ورسره فطري فطانت، ذکاوت او استعداد هم ده ته دا توان ورکړ، چې په لږ وخت کې ډېر څه زده کړي او د رسمي زده کړو لړۍ ډېر ژر سرته ورسوي. ده نه یواځې دا چې د علومو په زده کړه کې د نبوغ تر حده زیرکي درلوده، بلکې د ژبو په زده کړه کې هم ډېر پیاوړی او غښتلی و.

تر ټاکلې وخت وړاندې یې زده کړې، د ژبو زده کړې، بهرنۍ زده کړې او لوړې زده کړې ترسره کړې، د ټولنې په نبض پوه فیلسوف ترې جوړ شو، د هېواد یوائېنی او بې جوړې فیلسوف او داسې فیلسوف، چې فکري تمرکز یې پیدا کړ، د مکان او زمان پولې یې ماتې کړې او د خپل علمي درک او سالم تفکر له لارې یې د هېواد راتلونکې سیاسي او ټولنیزه څېره بیانوله او روښانوله او افغانانو ته یې د خپل خطرناک او د تیارو په زړه کې سفر په ګوډ پېرونو کې د لارې مشالونه لګول.

د دیموکراسۍ په لسیزه کې د سیاسي څپڅپانده او ټولنیزه رپ رپانده حالاتو په لیدو اندېښمن شو، په زړه کې یې وېره راولاړه شوه، تر توپان وړاندې چوپتیا کې یې د توپان بحراني څپې ولیدې، د وینو باران یې ولید او په دې باران پسې یې د ښامار د راتلو وړاندوینه وکړه.

دا وړاندوینه غیبګویي نه وه، بلکې د ده له ژور فلسفي تفکر او د ټولنې له ژورې مطالعې نه را پیدا شوې وه، توپان ګام پر ګام را روان و او ده تر توپان وروسته پېښې په صراحت، فصاحت او بلاغت بیانولې، "اژدهای خودی" د دیموکراسۍ د لسیزې په پای کې لیک او خپور شو، د جمهوریت په دوره کې یې "ځانځاني ښامار" ولیکه او د راتلونکو پېښو نور انکشافات یې په کې بیان کړل، "د وطن مور یې "داسې وړاندوینه وه، چې ظاهراً یې د یوه خواږه شعر بڼه درلوده، ځینې صریحې او رډې خبرې یې درلودې، خو په باطن کې یې د وطن د ورانۍ تریخ حقیقت نغښتی و او د پرله پسې سرو او شنو حیواني کودتاګانو او سیاسي توپانونو وړاندوینه یې کوله.

د راولاړ شوي توپان څپو، دی هم په مخه کړ او د هجرت په کاروان کې یې مخ په ښکته روان کړ، پېښور ته ورسېد، هلته د تنظیمونو بازار تود و، آی ایس آی په خلاص مټ د ګوندونو او ګوندیو په جوړولو کې لاس درلود او تنظیمونه یې په خپل لاس تنظیمول.

درېیم مخ

ژبه د انسانانو تر منځ د پوهولو او را پوهولو له پاره یوه غږیزه وسیله ده، خو موږ یوه بله ژبه هم پېژنو، چې هغه د اشاروي ژبې په نامه سره یادېږي. دغه ژبه هم، د انسانانو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو له پاره استعمالېږي، خو په دغه ژبه کې، لکه غږیزه ژبه، غږونه، ټکي او الفاظ نشته، یواځې یو لړ اشارې او حرکتونه دي، چې د دوو یا څو انسانانو تر منځ د پوهولو او راپوهولو په وخت کې استعمالېږي. د دغو دواړو ژبو تر منځ بل غټ توپیر دا دی، چې په غږیزه ژبه کې د مبالغې او درواغو ویل کېدای شي، خو په اشاروي ژبه کې دا چانس ډېر کم دی، دغه دویمه ژبه یعنې اشاروي، د لومړۍ په پرتله ډېره رښتیني او صادقانه ده. د بېلګې په توګه: خلک وایي، چې د وروستۍ زمانې خلک به په زړو سره پوهېږي. دغه د زړو ژبه، د اشارو ژبه ده. په دغه ژبه کې درواغ ډېر کم ویل کېدای شي، د مثال په توګه: که یو نابللی مېلمه د یو چا کره ولاړ شي، نو هغه له معمول سره سم په خوله ورته وایي، چې په لیدو دې خوشحاله شوم، خو مېلمه پوهېږي، چې زما د ورتګ له امله، په کوربانه ډېره درنه شوه او سره وڅڅېده، که څه هم زه یې په خوله خپه نه کړم، خو ورتګ مې چندانې خوند هم ورنه کړ.

د غږیزې ژبې او د اشارو ژبې تر منځ درېیم لوی توپیر دا دی، چې د اشارو ژبه د غږیزې ژبې په پرتله عامه ده او نږدې د نړۍ ټول خلک پرې پوهېږي او خلک معنا ترې اخیستلی شي. تاسې به ډېر ځله لیدلي وي، چې یو سړی په خوله خبرې نه کوي، یواځې یې لکه بیاتي دوه ګوتې پرانیستې نیولې وي، چې د برې او سوبې (فتحې) معنا ورکوي، خو تاسې وینئ چې غږیزه ژبه لږ ویونکي لري او په یوه ځانګړې انساني ټولنې پورې محدود او اړونده پاتې کېږي، د ځانګړي کلتور په چوکاټ کې د مطالعې وړ ده، چې د اقتصاد پرمختګ یې د ترقي سرچینه ده، له غږیزې ژبې سره د اشارو د ژبې څلورم توپیر دا دی، چې غږیزه ژبه بلې ټولنې او نورو انسانانو ته ژباړل کېږي، خو د اشارو ژبه د ژباړې ژبه نه ده. دا دویمه ژبه د لومړۍ ژبې یا غږیزې ژبې په پرتله عامه ده او زیات عمومیت لري.

پنځم ټکی دا دی، چې د اشارو ژبه، له غږیزې ژبې نه مخکې پیدا شوې ده. ژړا او خندا چې دوې انساني ښکارندې دي، هم د اشارو د ژبې متضاد حالت ښیي. یو ماشوم د ژړا په وسیله خپله مور پوه کوي، چې د رو امې خله، یا که کوم درد ورته ورسېږي، هغه یې د ناغږیزې ژبې په وسیله خپلې مور ته افاده کوي. زموږ خلک وایي: ماشوم چې و نه ژاړي، مور یې شیدې نه ورکوي، په حقیقت کې درد هم د اشارې ژبې د شتون یو لامل دی. نو اصلي خبره دا ده، چې په ټولنه کې د غږیزې ژبې په اړخ کې، ناغږیزه ژبه هم ډېره مهمه ده، چې باید زموږ د ټولنې هر وګړی، بیا په ځانګړې توګه زده کوونکي ښه پرې پوه شي او ناغږیزه ژبه هم، لکه غږیزه ژبه د پوهېدو یوه بله معنا لرونکې وسیله ده، خو مهمه دا ده، چې غږیزه ژبه د ناغږیزې ژبې په پرتله د خاص اهمیت وړ ده. دویمه ژبه د کلتور په چوکاټ کې د مطالعې وړ ده او د ټولنپوهنې او بیا په ځانګړې توګه د مفاهمې او محاورې په برخه کې یې هېڅوک پر ارزښت باندې سترګې نه شي پټولی، د ژوندانه اړتیاوې او ضرورتونه

درېیم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لوروونکي الله په نامه

## سرلیکنه

# د پښتو ژبې د یوه جامع عمومي ګرامر لیکلو اړتیا

ګرامر د یوې ژبې د جوړښت او د کارونې د طرز علمي او منظمه مطالعه ده، یا دا چې، په شعوري ډول د یوې ژبې د علمي جوړښت د نظام شرحې ته ګرامر ویل کېږي.

ګرامر د تشریحي ژبپوهنې یوه لویه او مهمه څانګه ده، اهمیت او ارزښت یې په دې کې دی، چې د یوې ژبې د معیاري لیکنۍ بڼې د زده کړې د آسانتیا له پاره لوستل کېږي او زده کوونکي د خپلې ژبې د ګرامر په مرسته نورې ژبې هم په اسانۍ سره زده کولی شي، همداراز د مورنۍ ژبې د ګرامر په مرسته د خپلې ژبې معیاري لهجه هم زده کېږي.

دا چې ګرامر د یوې ژبې د جوړښت سیستم تر کتنې لاندې نیسي او هره ژبه بیا ځان ته د رغاونې جلا سیستم او لغوي پانګه لري، خپل ځانګړي ګرامري قوانین لري، نو د یوې ژبې په ګرامرلیکنه او برابرونه کې د هماغې ژبې خپله رغونه، قواعد او لغوي پانګه په پام کې نیول کېږي؛ د هماغې ژبې له قواعدو او اساساتو سره سم باید دا چاره ترسره شي، ځکه د یوې ژبې ګرامري قواعد د بلې ژبې له پاره کارول یا د یوې ژبې ګرامر کټ مټ د بلې ژبې د ګرامر په تقلید او پیروۍ سره لیکل علمي او منطقي چاره نه ده، نو ګرامرلیکونکی باید هڅه وکړي، ژبه هغسې تشریح کړي، چې څنګه ده.

د بېلابېلو ژبو پوهان له لرغوني زمانې څخه د ژبو د ګرامر د مختلفو اړخونو په مطالعې بوخت شوي دي. لومړني آریایي ګرامرلیکونکي پاڼیني، د څلورم ق. م پېړۍ په وروستیو کې د ویدي سرودونو د لوستنې له پاره د سانسکریت ژبې یو ګرامر ولیکه.

په لوېدیځه نړۍ کې د ګرامر لیکلو منشأ لرغوني یونان ته رسېږي، د "یونیسیوس تراکس (Dionysius thrax)" په نوم عالم د یوناني ژبې لومړی ګرامر د ۵۰ ق. م په شاوخوا کې ولیکه. ورپسې د لاتیني ژبې له پاره د "وارو (Varo)" له خوا ګرامر په لومړنۍ ق. م پېړۍ کې وکښل شو.

# د ځپلو له لاسه!

لنډه کیسه:

▣ ژباړه: څېړندویه عاقله سادات

هوا تپه ولاړه وه، د ونو څه چې د شوې په پاڼو کې هم درپا متره نه وه، هر څوک په خولو کې جب جوب او د یوه ساړه پناځي په لټه کې وو، د تودوخې وزره خواره وو، ډېر مې وکاته، چې که هوا دومره مخه راکړي، چې موټرسایکل را وباسم؛ خو هوا سوګند کړی و، چې له ځایه ونه خوځي، بس سل زړونه مې یو کړل، موټرسایکل مې راووېست او له کوره راووتم، پر سړک د موټرو ګڼې، واټونه له چلنه اېستلي وو، په ګڼه کې ګیر شوم، په ګرانه مې ترې د وتو یوه سو وموند او موټرسایکل ته مې پونده ورکړه او مخ پر پړاو شوم، ډېر انتظار تنګ کړی وم، څوک راته نه ښکارېده، لا به مې یو څو ګامه نه وو وهلي، چې د موټرسایکل په ناڅاپي درولو او سخت بریک نیولو اړ شوم. یوه زړه او ضعیفه ښځه مې د سترګو په رپ کې رامخ ته شوه او له ور رسېدو سره مې پر ځمکه پرېوته، په لاس کې یې نیولې او به ټولې پر سړک تویې شوې، د موټرسایکل بریک مې په تېزۍ ونیو، چې له لوېدو، لوېدو سره مې راټینګ کړ او خواته مې ودراوه، بوډۍ ابۍ ته ورنژدې شوم. په لیدو مې یې لړزه راباندې کېناسته، ابۍ په ډېره نهیلۍ او بېوسۍ کله ماته او کله سړک ته کتل او کله یې هم خپلو تویو شویو اوبو ته، ماد څه ویلو له پاره خوله پرانیسته، چې هغې په خپل ضعیف او کمزوري غږ وویل: بخښنه غواړم زویه! د دې په اورېدو نور هم هک پک شوم، د بت په څېر یې چپ چاپ مخې ته ولاړ وم، ویلې: له سړکه مې پورته کړه؛ ډېر تود دی، زه ایله په دې خبره په سد شوم او پوه شوم، چې سړک رښتیا هم دومره تود دی، چې ابۍ د دردونو پرځای د سړک له ګرمۍ کړېږي، له سړکه مې پورته کړه، د منني په ویلو یې ورو - ورو ګامونه واخیستل او روانه شوه، زه یوه شېبه تم شوم، په خپلو کړو پښېمانه وم، په سوچونو کې ډوب شوم، چې بوډۍ مې په همدې ګڼه ګوڼه کې له سترګو ترۍ تمه شوه، سترګې مې هاخوا دېخوا واړولې، خوښه وه، چې ومې

زده کړو وروسته له پلار سره په کارونو کې بوخت شو، د مور او پلار مې هیله وه، چې ړومبی مور خویندې واده شو او بیا مو د ورور ډولۍ راولې؛ خو زموږ ارمان د ورور ناوې وه او خدای مو دا ارمان هم پوره کړ، په ډېر شور او شوق مو د یوسف واده وکړ، ورېندار مو هم په رنګ ښکلې وه او هم په خوی، موږ ټول ورسره خوشحاله وو، موږ ټولو ته یې درانه کاته او زموږ یې ډېر خدمت کاوه، خو وروسته – وروسته خدای زده، چې چا مو ترمنځ توره کټوه تېره کړه او ښې پرې نه لګېدو، په همدې اخ و ډب کې مې د خویندو ودونه هم وشول، هغوی خو بختورې وې، د خپل کور کوډلې او نغري خاوندانې شوې، د ورېندارې بد چلن ته خدای یواځې زه بدمرغه پاتې کړم.

مخکې خو به ښه و، که بدچلنې به هم وه، نو ناخوالې به مو یو بلې ته ویلې او د چا خبره: سره ویل به مو د خوږ زړګي حالونه؛ خو اوس ورته یواځې زه پاتې وم، مور ته مې هم څه نه شوای ویلی، فکر مې کاوه، خدای مه کړه، د دوی د خولې خوند پیکه نه شي، شپې ورځې تېرېدې چې یوناڅاپه مو آسماني کاڼي پر سر راپرېوت، پر مور او پلار مې له یوه واده په راستنېدو کې موټرېې ټکر شو او موږ یې پر وچ ډاګ پرېښودو، څه موده خو راسره د ورور ورېندارې چلن ښه وه، خو وروسته – وروسته مې ورېندارې راسره را واخیسته او ندرور ته د سر دښمنه ورته اېسېدم، د کور له خدمت او ځای جارو نه یې زما لاس لنډ او ځان یې د ټول کاله د واک څښتن کړ، په هره خبره به یې راسره انګته

ځوابونه مې ورته وویل، نو ویې ویل: یوځل بیا درته وایم، چې له وروره دې حق وغواړه او که بیا یې هم څه درنه کړل؛ نو له ما نه خلاصه یې!

د دې خبرې په اورېدو مې سر وچورلېد او زړه مې څړیکه وکړه، ځان مې ټینګ نه کړای شو، ځان مې ایله، تر کوټې پورې ورساوه او خپل ډک زړه مې په کوټه کې تش کړ، ټول خپل مې پردي شوي وو، هېڅوک نه وو، چې ما دلاسا کړي، د سترګو اړولو څوک مې نه وو، د لوی خدای په دې ستره نړۍ کې زه بالکل یواځې شوې وم، هېڅوک نه وو، چې خپلې ستونزې ورسره شریکې کړم او نه مې داسې څوک وو، چې له دې ستونزې د خلاصون او حل لار را وښیي، په همدې فکر کې ډوبه وم، چې څنګه ځان له دې زخمي او ګردابه را وباسم؟ خو بریالۍ نه شوم، هرې خواته مې تیارې لیدې، لارې مې مخې ته بندې وې او یواځې یو ور پرانستی و؛ خو د هغه هم دا خوښه وه، چې همداسې در په در او بدمرغه واوسم، څو ځله مې له الله (ج) نه مرګ وغوښت، چې یا الله! یا مرګ راکړه او یا هم داسې یو لوری راوښیه، چې د دې ستونزې له څپو را ووځم؛ خو دعا مې قبوله نه شوه، هیلې مې له خاورو سره خاورې شوې، خاوند مې طلاق راکړ، اوس نو نه د ورور کره تلای شوم او نه هم په خسرګنۍ کې د پاتې وم، د خسر له کوره خو د نجلۍ جنازه وتلې بویه؛ خو داسې ونه شول. زه د یوه ژوندي مړي په توګه د خسر له کوره را ووتم، د منزل لوری راڅخه ورک وو، نه پوهېدم چې څه وکړم او چېرې لاړه شم،

پښتو ژبې تـه ډېر وروسـته، دژبپوهانو پام اوښتی او لـه ۱۲مې هجري قمري پېړۍ وړاندې یې د قواعدو او اصولو په اړه څه نه تر سترګو کېږي. د لاسته راغلو اسنادو له مخې، د پښتو لومړنی ګرامر ډوله اثر د پیرمحمد کاکړ "معرفة الافغاني" دی، چې پـه ۱۱۸۶هـ ق کال یې د لوی احمدشاه بابا زوی شهزاده سلیمان ته د هغه د لنډې واکمنۍ په مهال سپارلی، د نواب محبت خان "ریاض المحبت" د پښتو ګرامر دوهمه ترلاسه شوې بېلګه بلل کېږي او تـردې وروسـته د وخـت او شـرایطو لـه غوښـتنې سره سم، پـه افغانسـتان، پښتونخوا او د نړۍ په نورو هېوادونو کې په لسګونو پښتو ګرامرونه یا ګرامر ډوله آثار د کورنیو او بهرنیو لیکوالو او پوهانو له خوا لیکل شوي او دا لړۍ تر ننه پورې را روانه ده.

خو ستونزه داده، چې یو شمېر پښتو ګرامرونه په دودیزه بڼه د عربي ژبې د قواعدو پرېنسټ او لړو ډېر تقلید کښل شوي او د معاصرې ژبپوهنې د دې اصل له مخې، چې هره ژبه د رغاونې جلا سیستم، قواعد او خپله لغوي پانګه لري، نو د یوې ژبې ګرامري قواعد د بلې ژبې له پاره کارول علمي او منطقي نه برېښي. سره له دې چې په دا ډول ګرامرونو ډېر زیات زیار ګالل شوی، ګټور او غني مواد او معلومات لري او په خپل وخت کې د قدر وړ بلل کېدل.

بله دا چې، د پښتو ژبې یو شمېر نور ګرامرونه چې بیا که څه هم د نوې ژبپوهنې د اساساتو په رڼا کې لیکل شوي او پـه علمـي اصولو برابر دي، خو هغه بیا په داسې کړکېچنې ژبې او لیکنې معیار لیکل شوي، چې استفاده کول ترې ګرانه ده او آن د همدې مسلک خاوندان او د لوړو زده کړو زده کړیالان هم، په لازمه توګه ترې سمه ګټه نه شي پورته کولی.

نو ویلی شو، چې د پښتو ژبې د ګرامر په برخه کې په بېلابېلو وختونو کې ترسره شوي کارونه پـه خپل وخت او ځای د ارزښت وړ وو او دي، خو اوسمهال لـه اوسنیو شرایطو سره سم، یـوه معیـاري، ساده، آسانه او جامع تعلیمي ګرامر لیکلو ته جدي اړتیا لیـدل کېږي. دژبپوهنې د اساساتو او د ګرامر د معاصرو علمي نظریو پرېنسټ، دې برخې ته لازمه پاملرنه په کار ده او پـه ساده، روانه او اسانه ژبه د پښتو ژبې یو هر اړخیز ګرامر لیکنه د وخت تقاضا هم ده، ترڅو پـه عامه توګه د هر لوستونکي او لېوال لـه پاره او پـه ځانګړې توګه د ښوونځیو زده کوونکو او د پوهنتونونو د محصلینو له پاره د پښتو ژبې د معیاري لیکنۍ بڼې په زده کړه کې ممد او مرستندوی واقع شي.
خو باید وویل شي، چې د دغه ډول یوه ګرامر لیکنې چاره دې، د علمي - څېړنیزو اکاډمیکو ادارو له خوا ترسره شي، ترڅو د خپلسریو مخه نیول شوې وي.

په همدې هیله

مونده، ورغلم، پر موټرسایکل مې کښېنوله او د هغې پـر راښـوولې پتـه روان شـوم. بـوډۍ څـه ساعت وروسته د یوې وړې زړې او ړنګې کوډلې ته لاس ونیو، چې دغلته مې کېباسه.

مـا هـم موټرسـایکل یـوې خواتـه ودراوه او کښته مې کړه؛ خو زړه مې ډېر ناقراره وو، ډېرې پوښـتنې راتـه پیـدا شـوې وې، د زړه او دماغ تـرمنځ مې شخړه وه، سوچ مـې کـاوه، دا ښځه ولې پـه دې ورځ ده او د خـدای پـه دې وېره نړۍ کـې یـې د لاس د تودولـو او د مـخ اړولـو څـوک شته، که...؟

ورتـه مـې وویـل: مورجـانې! کـه تـه نـه خپـه کېږې، یـو څـو خبـرې مـې درسره زړه غـواړي؟ بوډۍ راته په خوارو سترګو وکتل او ویې ویـل: زویه! دننه راشه؛ خو زه ستا هېڅ خدمت نه شم کـولای، ځواب مې ورنه کړ، کوډلې تـه ورننه شـوم، پـه کوډلـه کـې یـو مـات کـټ څـه زاړه او پخوانۍ لوښـي او یـو خاورین ګړی پـروت وو، کوډلې چې هره شېبه یې د ړنګېدو حال وایه، ما په کوډله کې پراته لوښي تر سترګو تېرول، چې هغې راته وویـل: زویـه! کـور چـې وران شـي، نـو بیا ودانېدای شي؛ خو د زړه جونګړه چې ړنګه شي، بیا بویه چې جوړه شي. زه د دې خبرې پـه اورېدو، د مات کـټ پـر یـوه ګـوټ کښېناستم او ورتـه مـې وویـل: مورجانې! دژوند پوښـتنه دې کـولای شـم، چـې څـوک یـې؟ دې ورځـې تـه چا رسولې یې او دا ولې؟ زما پوښتنې لا خلاصې نه وې، چـې د ابـۍ غړېـو راډک شـو، سـترګې یـې د بارانـه داوبـو بـوکنۍ شـوې او سـلګیو ونیـوه، د غلي کولو هڅه مې وکـړه، دلاسې مـې ورکـړې او...

څه شېبه چې زړه یې په سلګیو لږ سپک شو؛ نو د خپل تـریخ برخلیـک د کتـاب پاڼه یـې راتـه واړوله:

زویـه! زه هغـه بدمرغـه او بدبختـه انسـان یـم، چې حق مې خپلـو راڅخه واخیسـت او زه یـې د نیسـتۍ او بـدمرغۍ پـه تغـر کښېنولم، نـور خـو پرېږده، چې هغه خدای راکړی حق یـې هـم رانـه وتروړه، د کور غولی یې راته تنور کړ، له ننه ډېر پخوا مې پـلار حاجي عزیـز پـه دې ښار کـې یـو لوی ښکلی کور درلـود، پـلار مې لـوی او شـتمن سوداګر وو، پـه کـور کـې مـو د هېـڅ شـي کمـی نـه وو، درې مو خویندې وې او یو ورور، وررور مې له وه، پـه ستغو سپورو بـه یې پاڅولم او کېنولم، پـه همـدې اخ و ډب کـې مـو ډېـر وخـت تېـر شـو، لـه خـویندو سره مې زمـا د بدعمرۍ غـم شـو او زمـا د واده پـه فکر کې شوې، د ورور مـې هـم دې خبرې تـه پـام شـو، چـې د خور واده بایـد وکـړو او زمـا لـه مشـورې پرتـه او بـې لـه دې چـې څـه ووینـي یـا واوري، زه یـې واده کـړم او د پـلار د کـور پـه پرېښودو مجبوره شوم او د خاوند د کور پر غولي ورننـه وتـم، د خپـل نـوي کـور مـې هېڅـوک نـه پېژندل، ډېره اندېښمنه وم، چې څنګه خلک به وي او له ما سره به څنګه چلن کوي؛ خو یو څه موده وروسته راته معلومه شوه، چې پـه واده مې یـوه خـوا هـم خوشـحاله نـه دي او نـه هـم دا واده د دواړو خواوو پـه خوښه شوی وو، وررور مـې لـه مـا نه ځان خلاصاوه او خسرخېلو مې هم زه لـه زړه نه وم منلې، ځکه نو په سر کې یې ویل، یو څه او ښکارېدل بـل څـه، زمـا د واده چـې دوه میاشـتې پـوره شـوې؛ نـو د دوی رښـتینې څېـره راښـکاره شوه، هغوی ته تر ما مې د پلار شتو ډېر ارزښت درلود او زه بـه پـه دې سوچونو کې ډوبه وم چې پـه دې نړۍ کې داسې خلک هم شته چې له انسان نـه کاغذ ته ډېر ارزښت ورکوي، څه موده وروسته یې د حق اخیستلو راتـه وویـل، مـا یـې د پوهولو ډېره هڅه وکړه؛ نـو د دیـن او اسـلام خبـرې یـې وکـړې او د اسـلام لـه مخـې یـې داسـې روایتونـه ورکول او زه یې دې تـه اړ ایستم، چې د پلار لـه جایـداده خپلـه برخـه وغـواړم، پخوا مې داسې ګڼله، چې اوس مې نو ټول مسوولیت د خاوند پر اوږو دی؛ خو د هغه ماته سترګې وې او د حق غوښتو ته یې مجبوره کړم.

یـوه ورځ ورور تـه د حـق غوښـتو پـه نیـت ورغلـم، ورور مې د حق پـه غوښـتو سور شین شو، ویې ویل: کومه برخه؟ هر څه چې له پـلاره راپاتې وو، ستاسو ودونه مـې پرې وکـړل او څه چې اوس وینې، دا خو ټول زما د کاروبار پایله ده، دا ځـل خـو خیـر؛ خـو چـې بیـا دې ګـورې د خسرخېلو پـه ګـډون پـه دې اړه څـه پـه خـوا او خاطر کې ونه ګرځې.

د ورور لـه کـوره، چـې تشـه ځـولۍ راسـتنه شـوم، نـو لـه ټولـو لـومړی مـې خاونـد وپوښـتل، څـومره جایـداد یـې درکـړ؛ خـو چـې د نهیلـي سـیند تـه مـې د پناه لـه پـاره مخـه کـړه، د سـیند د څپو پـه کتو مې داسې انګېرلـه، چې دا څپې هـم داسـې مشـوره راکـوي، چـې ځـان ور وسـپارم، ځکه بل لوری نـه لـرې، ما هم له ناچارۍ د څپـو مشـوره پـه سر سترګو قبولـه کـړه، سترګې مې پټې شوې او نوره نو پوهـه نـه شـوم، چـې څـه وشـول، خـو کلـه چې مې سترګې پرانیستې، ځان مې پـه دې کوډله کـې وموند، سر تـه مـې یـو سـپین ږیـری ولاړ و، چـې سـترګې مـې پـرې ولګېدې، نو پـه خوښۍ یې راته وویل! زویه! مه پرېشـانه کېـږه، مـا ورتـه وویـل: زه مـو ولـې وژغـورلم. ده راتـه وویـل، پـوهېږم، هسـې دې نـه غوښتل چې ځان د سیند څپو ته وسپارې، ژوند ډېـر خـوږ امانـت دی؛ خـو خامخـا بـه د دې نړۍ خلکو ډېره ځورولې یې او لـه ډېرې مجبورۍ بـه دې دا لار غـوره کـړې وي، خـو اوس اندېښـنه مـه کوه، زما د لور پـه څېر دلته اوسېږه او د لور پـه څېر زما خدمت کـوه، زمـا هـم پـه دې لویـه نړۍ کـې هېڅـوک نشته، زه هـم ټولـو یـواځې پرېښـی یـم؛ نو له هغه وخته مې تـر اوسه ژوند لـه دې بابا سره تېر کړ، هېچا مې احوال ونه پوښته، ما هم تـر شا ونه کتل، ژوند خو تېر شو، خو هغه ټپونه چې خپلو راباندې ایښي وو، ښه نه شول، کله کله مې زړه غواړي چې ښه ډېر وژاړم، خو بیا له ځان سره فکـر کـوم، چې زه څومره بدمرغه یم، پـه دومره ګڼو خپلوانو کـې مې ټول ژوند یـواځې او پـه کړاوونو کـې تېـر کـړ، نـه پـوهېږم، چې الله (ج) ولې پیدا کولم. د دې خبرو په ویلو، هغه بیا پـه ژړا شوه او ښه ډېرې یې وژړل، ما ډېره هڅه وکړه چې ارامه یې کړم؛ خو پـه خپلو هڅو کې پاتې راغلم، ځکه هغه دومره دردېدلې وه، چې زما پـه ډاډګیرنـه یـې ښـه نـه کېـده، د هغـې بېـوزلې دردوونکـې داسـتان مـې واورېـده؛ نـو پـه ډېـر افسوس چې لـه هغـه ځایه بهر را ووتم؛ نو باران ویل چې نن نه اورم، نو کله؟

د دې ښار کنده باران پـه ورېدو مې لـه ځان سره وویـل، نـن لکـه چـې د آسـمان زړه هـم پـردې بدمرغۍ او بې کسې باندې وسوځېد او رحم یـې پرې راغی او د نړۍ پـه بې حسۍ اوښکې تویوي او له همدې فکر سره مې موټرسایکل د کور پـر لور را رهي کړ.

## یو تلپاتې...

ده ته سخته وه، چې په پردي پالو تنظیمونو کې تنظیم شي او د آی ایس آی په دروازه کې په تعظیم. ده په خپل ټول ژوند کې خپل ټول علمي کارونه په نوښت او ابتکار پرمخ بېولي وو، هم په رسمیاتو کې د ولایت برخه ور رسېدلې وه او هم په افکارو کې د ولایت درجه، دی که ولي نه و، خالي هم نه و، ویې لیدل چې جهاد تنظیمونه لري، ډلې لري، رهبران لري او د فرهنګي ادارې په نامه د ستاینو او توصیفاتو نغارې.

همدلته متوجه شو، چې افغان ملت د سره ښکېلاک په وړاندې قهرماني کوي، قرباني ورکوي، خو رهبران او آی ایس آی په دې وینو تجارت کوي او د دوی د اتلولۍ له واقعیتونو نه خبرېږي، همدا وخت ده وغوښتل، چې جهاد ته یوه رښتینې او ګویا ژبه پیدا کړي او د دې ژبې له لارې د ملت قهرمانۍ او د جهاد اصلي څېره نړیوالو ته وښیي، د افغان اطلاعاتو مرکز په نامه یې یوه وړه اداره جوړه کړه او د کار له پاره، یوه خواخوږي پښتون ارواښاد میا فاروق شاه یو انګلیسي د ټایپ ماشین ورکړ او هم یې په خپل کور کې ځای ورکړ، ده له همدې ځایه د جهاد واقعي پېښې د سنګر د مجاهدینو له خولې لیکلې او په خپل میاشتني بولټن کې به یې په انګریزي ژبه خپرولې، په دې ترتیب، ده جهاد ته ژبه ورکړه، رښتینې ژبه او له دې لارې یې د نړیوالو رسنیو، آژانسونو او خپرونو له پاره د باوري معلوماتو وړاندې کول، د خپل قلمي جهاد په توګه پیل کړل او د ده د خپرونو له لارې د جهاد اصلي څېره نړۍ ته وځلېده او د غلطو تبلیغاتو او قهرمان جوړونې بازار یې مات کړ.

ما ته یاد دي، کله به یې چې له چا سره مرکه کوله، بشاش او خندان به ورسره ناست و، لومړی به یې یوه ټوکه ورسره وکړه او وبه یې خندل: چې یو څه خو درنه ترلاسه کړو! بیا به یې د پېښې اړوند دقیقې پوښتنې ترې پیل کړې، خبرو ته به یې غوږ–غوږ و او په بشپړ ذهني حضور به یې اورېدلې او مقابل لوري ته به یې ښوده، چې ټولې خبرې یې مهمې او مطلبي دي، که هغه به ډېره عادي خبره هم کوله، ده به په ډېره تلوسه او د تعجب په اندازه کې اورېده، هغه به دومره وهڅېده چې ټول حقایق او دقایق به یې ورته وویل او د پېښې په اړوند به یې یو بشپړ او رښتینی خبر ترې ترلاسه کړ، بیا به په خپله ورته کښېناست، په انګلیسي ژبه به یې واړاوه، ټایپ به یې کړ او ټایپ شوې پاڼې به یې خپلو همکارانو ته وسپارلې، هغوی به په بازار کې فوټوسټیټ کړې، بیا به یې په ګډه تنظیم او سټېپلر کړې او بیا به یې د دې له پاره، چې د پاکستان د پستي او جاسوسي ادارو له خوا ضایع نه شي، د خپلو همکارانو په وسیله لاس په لاس سفارتونو، آژانسونو، نړیوالو دفترونو او نورو مینه والو ته رسولې.

دا بولټن د شکل او بڼې له نظره ډېره محقر و، خو د محتوا له اړخه ډېر معتبر او باثمر.

ما همکاران وویل، دا هم یو مهم ټکی دی، دوی نه یوازې دا چې د جهاد له پاره ژبه پیدا کړه، بلکې له هېواده د رامهاجر شوو استادانو، عالمانو، پوهانو او روڼ اندو له پاره یې هم د ټېکې ځای او د یوه عادي عاید لاره برابره کړه، وخت په وخت به استادان او پوهان راتلل، د دوی په مرکز کې به راټولېدل، د څه وخت له پاره به یې اقتصادي مشکل حل کېده، بیا به یې یا په کوم دفتر کې ځان ته کار پیدا کاوه او یا به یې بهر ته د تلو لاره موندله او اروپا، امریکا او استرالیا ته به تلل.

ده غرب ته د تګ طلایي چانسونه درلودل، خو هېڅکله یې دې کار ته زړه ښه نه کړ، د څو ورځو له پاره به ولاړ، خو بیا به بېرته راستون شو او په خپل کار بوخت. ده لیدل چې ډېر کسان به له کابله تاوده تاوده راغلل او ساړه ساړه به له پېښوره ووتل او غرب ته به ولاړل، همداراز ده لیدل چې ډېر ملي کسان به د آی ایس آی د مزدورانو له خوا بېول کېدل او ورکېدل او وژل کېدل، خو دی لکه ونه مستقیم پر خپل ځای ولاړ و، که خزان به راغی او که بهار.

په یاد مې دي، کله چې په پېښور کې د ملت قاتلانو د ملي کسانو وژنې او ترورونه زیات کړل، یوه ورځ "بي بي سي" له ده سره مرکه وکړه او ورته ویې ویل: ستا په مخ کې ملي خلک وژل کېږي، ایا ته نه وېرېږې، چې وبه وژل شې؟ ولې ته هم، لکه د نورو غوندې چېرته پناه نه اخلې! ده ورته وخندل او بیا یې په جدیت ورته وویل: زه د همدې غریب ولس په پیسو روزل شوی یم، زه به د ژوند تر پایه د دوی ترڅنګ ولاړ او په خپل خدمت بوخت وم!



همداسې وشول، خونړي ښامار چې ده یې وخت په وخت څېره خلکو ته روښانوله، په ده پسې هم راورسېد او د ۱۹۸۸ زېږدیز کال د فبروري په ۱۱ مه نېټه یې بې رحمانه برید پرې وکړ او شهید یې کړ. جالبه ده، دی د ۱۹۲۸ ز کال د فبرورۍ په ۱۲ مه نېټه زېږېدلی و، د ۱۹۸۰ ز کال د فبروري په ۱۲ مه نېټه پېښور ته مهاجر شو او د ۱۹۸۸ ز کال د فبروري په ۱۱ مه نېټه د شهادت لوړ مقام ته ورسېد او پوره شپېته کاله یې ژوند وکړ.

دا لوی او درونـد شخصیت د هېواد یوازینی فیلسوف، عالم او ادیب او هر اړخیز ټولنیز شخصیت ارواښاد پوهاند ډاکټر سید بهاءالدین مجروح دی، چې څه د باندې شل کاله وړاندې یې په ویاړ او افتخار له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، د خپل ملت خدمت یې وکړ، خپل خلک یې راویښ کړل، څه وړاندوینې یې چې کړې وې، رښتیا وې. د داسې عزم او ارادې خاوند و، چې د جسمي مرګ وېرې یې د معنوي ژوند مخه ونه نیولای شوه، له خپلو خلکو سره یې ژوند وکړ او د خپلو خلکو له پاره یې قرباني ورکړه!

**یاد به یې تلپاتې او آثار به یې جاوېدان وي**

**اروا یې دې ښاده وي!**

## د غرېزې او اشاروي...

موږ دې ته اړ باسي، چې باید زده یې کړو:

ما تـه پـه سـترګو کـې حـال وایـه
لارې کـوڅې لـه غمـازانو ډکـې دینـه

په سترګو کې حال ویل، د اشاروي ژبې یوه برخه ده، چې ټاکلی پیغام لېږدوي او په دې ډول، د یوه انسان د زړه پیغام بل ته لېږدول کېږي. انسانان د غرېزي ژبې له لارې یو د بل خوله بویوي، که یو څوک په شونډو کې مسک شي او په خوله خبره ونه کړي، مقابل لوری پوهېږي، چې څه سور دی. په شونډو کې بوخ کېدل، یا د شونډو راڅڅېدل یا د خولې کږېدل، زموږ په فرهنګي چاپېریال کې خپل مفهوم لري، کوم چې زموږ د ټولنې او کلتور پیداوار یې بللی شو. د لاس په اشاره پوه کول، نړدې نیمه ژبه ده، دا ژبه مقابل لوری خپل استقامت ته برابرولی شي او هغه ټاکلی مفهوم ترې اخیستلی شي، بیا په لوی لاس پوه کول، هغه عبارت دی چې یوه سړي ته د یوې موضوع ټولې خواوې بیان شي، خو هغه په ناپامۍ سره بل عمل وکړي، نو مقابل لوری دغه جمله ورته وایي چې: په لوی لاس مې پوه کړې، خو ته بیا هم پوه نه شوې.

زموږ خلکو به پخوا چې یو بل پوه کاوه، په ځانګړې توګه د حساب او کتاب په وخت کې، نو د لاسونو په ګوتو به یې هم ورته حساب وکړ او ښه به یې پوه کړ، دا ناغرېزه یا اشاروي ژبه ده، چې د مفاهمې یوه مهمه وسیله ده. د مثال په توګه: که به یې د زرو حساب کاوه، نو یوه ګوته به یې په سل حسابوله او بیا به یې لس واړه ګوتې یوه په بله پسې کېکاږلې او په دې به هغه حساب او مفهوم بشپړېده، که به د سلو حساب کېده، نو بیا به یې د دواړو لاسونو لس واړه ګوتې، ګوته په لس حسابوله او د سلو حساب به پوره کېده، دا اشاروي ژبه هم، لکه غرېزه ژبه خپل ټولنیز ارزښتونه لري، دواړه په خپل خپل ځای کې ځانګړی اهمیت لري او دواړه د مفاهمې غوره وسیلې او یو د بل همکارې او مرستندویه ژبې دي، زموږ په ټولنه کې د یو چا له خوا خوله ترپول، یوه اصطلاح ده، چې مقابل لوری پرې پوهېږي، چې ښه یې مقابل لوری نه دی پوه کړی او یا یې په زړه کې یو څه او په خوله بل څه وو، زموږ یو شمېر هېوادوال کله چې د انکار په حالت کې خبرې ونه کړي او یوازې خپله اوږه واچوي، نو بیا باید مقابله خوا پوه شي، چې اوس په هغه سړي خبره جوړول سخته شوه، په یوه معامله کې د ځټ ګرول، دا معنا لري چې دا کار نه کوم، که یوه سړی په یوه کار کې مازې دوه ګوتې څټ ته وروړي او تا تأکید پرې کاوه، نو په دې پوه شه چې نه یې کوي، په اشاروي ژبه کې کله د بدن یو او یا دوه غړي بوخت وي او کله له هغه نه هم زیات. د نمونې په توګه یو څوک په یوه معامله کې په خوله څه نه وایي، خو په لاس خپل ټټر درته ټکوي، نو ته ژر پوه شه چې دا کار هرومرو کېدونکی دی، موږ ډېر نور د غسې حرکات لرو چې پرې پوهېدل لازمي دي، یو چا ته پښې دربول، د دې معنا لري چې نور تښته، که لوګری لور په لوټه تېره کړي، ژر پوه شه چې ناراستي کوي او کار ته یې ملا نه ټیټېږي، که یو چا سترګې درته برګې کړې، پوه شه چې ډاروي دې، د وروځو پورته غورځول، معنا یې دا ده چې څنګه یې، البته زموږ په ټولنه کې سترګې کېکاږل د هو معنا ورکوي، شونډې څټل، د اشتها معنا لري او دا ټول په دغه اشاروي ژبه کې مهم دي، خو که وروځې د مخاطب په اړه یوه بل چا ته وغورځول شي، نو د ملنډو وهلو او ریشخند معنا ورکوي، په دغه ژبه کې د لاس اشارې ډېرې زیاتې استعمالېږي، د بېلګې په ډول، د سلام اچولو په وخت کې د لاس پورته کول، د زیات درناوي او مینې په مفهوم باندې کارول کېږي، د لاسونو پړکا او چک چکې د یو چا د تشویق او هڅونې له پاره تر سره کېږي.

باید ووایو، چې له اشاروي ژبې نه ګونګان او کاڼه ډېره ګټه اخیستلی شي، ان په اشاروي ژبه باندې خبرونه اوري او اوس خو یو شمېر ړانده زده کوونکي، د کمپیوټر په وسیله ښوونیزې او روزنیزې زده کړې او ان لوړې زده کړې هم پرې سرته رسوي.

# لنډۍ د استاد ګل پاچا...

له عالي ليکنې او بيان څخه درته وړاندې کړو:

د استاد الفت، په خپلو ادبي ډېرو لوړو ليکنو کې، د ټپو او لنډيو د تعريف او پېژندنې په باب، ما ته څه را تر سترګو نه شول، خو ده په خپلو ادبي عالي بحثونو کې د لنډيو په برخه کې داسې پخه او بې سارې ليکنه او يادونه، را ته په ميراث پرېښې ده، چې ادبي فيض، ايبرې او حاصل ته به يې په زيات ه مينه ځير شو، ځکه چې دی لنډۍ او ټپې عاميانه بلاغت بولي، په اړه يې داسې په زړه پورې څېړنه او ليکنه کښلې ده، چې په رښتيا سره يې د لنډيو عاميانه اغېز او رنګ ډېر په ځای او حقيقت سره، په ادبي خوږه ژبه بيان کړی دی، وايي:

"د پښتو لنډۍ، چې په هر چا ښې لګېږي او عمومي مقبوليت لري، يو سبب يې همدغه دی، چې له عاميانه بلاغت نه په کې کار اخيستلی شوی او کلمات او تعبيرات داسې دي، چې عام خلق پرې ښه پوهېدلی شي او هېڅ نااشنايي په کې نه ګوري، وينا يې هم د حال له مقتضا سره سمه وي او له حيات سره پوره تطبيق لري، د مثال په ډول به يو څو لنډۍ هم راوړو:

کله چې موږ کوچياني لنډۍ او د کوچيانو ټپې اورو، پوهېږو چې دا لنډۍ د کوچيانو له حال او حيات سره څومره اتصال لري او د دوی حياتي وضعيت څنګه ښه تصويروي، لکه دا ټپه او لنډۍ:

اوښانو بيا غاړې کړې کړې
چې پرې سپرې دي سپينې خولې زېړ پېزوانونه

که چا کله د کوچيانو روانې کډې ليدلې وي، چې په اوښانو باندې، ښښتنې پېغلې سپرې وي او اوښان يوه خوا بله خوا غاړې کږوي او ترشا ګوري، هغه د دې لنډۍ په بلاغتي کيف ښه پوهېدلی شي، چې دلته ويونکي څه شاعرانه او ساحرانه مهارت خرڅ کړی دی (اوس ډېر کوچيان کوټي او کليوال شوي دي. منګل)، چې له يوې خوا دغه منظره او وضعيت ډېر ښه تمثيلوي او له بلې خوا دې خبرې ته هم تلميح او اشارت کوي، چې اوښان هم د دغو پېغلو د ښايست او جمال احساس کوي او د دوی ننداره ته مخ راګرځوي..."

په يوه بله ټيکۍ او لنډۍ کې يوه کوچۍ پېغله خپل آشنا ته وايي:

تر دې خروړې سپي را تېر شه
تر دې ملالې خولې به زه درتېره شمه

استاد الفت، د دغې پښتو لنډۍ د بلاغت د تحليل او تفسير په برخه کې، ډېره بې سارې څرګندونه په ژوره ادبي ژبه رانغښتې ده، چې په کې پوره کمال او هنر ليدل کېږي؛ وايي:

"په لنډۍ کې يو شرط او تعليق ليدل کېږي، چې بايد مين يې پر ځای کړي او د ملالې خولې په مقابل کې يو ګران کار قبول کړي، چې هغه له خروړي سپي څخه تېرېدل دي. په دې ځای کې البته ډېر مشکل شرطونه پيدا کېده، چې بايد په مين تحميل شوي وای، مګر د کوچيانو له حال او ژوند سره به يې دغومره موافقت نه درلود، لکه دا شرط يې چې لري. يوه کوچۍ پېغله بايد هر څوک له خپل خروړي سپي څخه وډار کړي او خپل سپی لکه لېوه يا زمری خلکو ته وښيي. دلته ټوپک يا توپونه يا دول له حيات سره مناسبت او موافقت نه لري او نه دغه ادبي لطف په کې شته، چې د خروړي سپي په لفظ کې موجود دی، دا د همدغه لفظ اثر دی، چې ځينې د تصوف خاوندان له دې لنډۍ نه د حقيقت په نامه يوه بله معنا اخلي او وايي، چې خروړی سپی نفس دی او له دې نه تېرېدل خدای ته رسېدل دي. که دلته توپ او توپخانې يادې شوې وای، د دغسې تأويل د پاره به هم څه مجال نه وا او دومره ظرفيت په دې لنډۍ کې نه پيدا کېده."

د دې لنډۍ په ځواب کې يو د تورې خاوند او توريالی مين خپلې معشوقې ته وايي:

د سپين خولې تن راته کېده
که د چړو په څوکو لاروي درېه شمه

"دا هم يو بليغ تعبير دی او له ده سره مناسب ايسي، ځکه چې د چړو په څوکو تېرېدل، انتهايي مشکلات قبلول دي او سړی پوهېږي، چې د دغسې سختې لارې يون دومره ګران دی، چې له خروړو سپو تېرېدل ورته هېڅ دي او څوک چې دا قبلوي، هغه په خروړو سپيو هم نه ايسارېږي."

زموږ ستر شاعر او ليکوال په جوته سره وايي:

"که سړی په شعر او ادب کې، ښه غور وکړي، د دې فن ټوله ساحري په يوه ښه او بليغ تعبير کې مضمره ده. که څوک د خپل مقصد له پاره يو قوي او لطيف تعبير ومومي، چې مبتذل او پيکه نه وي، دې سړي په يقين سره د شعر او ادب حق په ځای کړی او د بلاغت سکه يې قايمه کړې ده. په دې تعبير کې دانه ده لازمه، چې ارومرو به په کې اغراق او مبالغه وي، بلکې لازمه ده، چې لطف او ملاحت او حسن به په کې وي او يو نوی تعبير او ښه تصوير به ورته ويل کېږي...".

د استاد الفت د دې عالي بيان او نظر له پاره به د ده له ادبي بحثونو څخه دا څو لنډۍ هم، چې بليغ رنګ يې ده په تحليل سره جوت کړی دی، بې له تحليل او تفسير څخه د کڅ د ګل په ادبي مينه او ذوق درته وړاندې کړو، له تحليل څخه يې ځکه تېرېږو، چې موضوع اوږدېږي، په اړه يې د ده ادبي بحثونه کتلی شئ:

مخ په مړوند کله پټېږي
ظالمه ياره سلامي ولاړه يمه

***

ستا په ننکۍ کې شيطان ناست دی
هره شپه مې ستا خولګۍ ته لمسوينه

***

که دنيايي شرمونه نه وای
تا به منګی ووړ زه به تش درسره تلمه

***

که مې اجل ستا په خولګۍ وی
سبا کفن په سر ترم تا له درځمه

***

کور دې نژدې ديدن دې لرې
دېوال دې رنګ شه چې وړيا دې ووينمه

***

ټوټې ټوټې په تورو راشې
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

***

سترګې مې تا ته تورولې
چې ته رانغلې په سالو يې پاکومه

***

زما جانان دې راسره وي
په ما دې تيرې د مېړو را چلوينه

لکه چې وويل شول، اروا ښاد استاد الفت دا پورته لنډۍ په خپله ادبي عالي ژبه او ادبي ځانګړې ادا، په "ادبي بحثونه" کې ډېرې په خوند او ښايست سره تحليل کړې دي، چې د لنډيو ادبي بلاغت يې ډېر لوړ په کې څرګند کړی دی...

په هر حال، د استاد الفت د روح د خوشالېدو له پاره، چې ښکلی مخ يې ډېر خوښ و، دا ټيکۍ به په هغه مينه ورسره راغبرګې کړو:

سر په وړه څنګل نې کېږده
مخ مې درخپل که ښکلوه شنډو سرونه

***

په مخ مې ورو ژبه راکاږه
تنکی پنکی دی ټول دې کندې کندې کنه

---

# هوا!

## نعمان دوست

هوا!
زاري ده نوره مه سرېږه !
زموږ سپېره بې غوښو وچ هډونه
نور د سړو سېليو تاب نه لري
هسې له عمر نه زلمي ښکارېږي
په خدايږو ختم دي شباب نه لري
هوا !
منت کوم سړه چې نه شې !
زموږ ماشومې لنډغرې ګرځي
تر نيمو شپو پردو – پردو کوڅو کې
بس د يوې مړۍ ډوډۍ له پاره
په پښو لوڅې سر بيرې ګرځي
هوا !
وړنده خونه يې وګوره ته !
له شنه سهاره تر سکڼې ماښامه
پر سړ کونو کونډې بورې ناستې
پر سړه ځمکه يې بچونې پراته
يخ يې په ستوني کې چغار وژلی
څه وکړي وږي دي تر هورې ناستې
هوا !
د خدای پار دی سړه چې نه شې
کور نه وتلې زموږ وړې سوالګرې
شپه نيمايي شوه ستنې شوې نه دي
ښايي چا، ور وربېر ته کړی نه وي
له ولږې سستې دي راغلې نه دي
هسې نه مړې نه شي خونکاره نه شې
هوا !
زاري ده نوره مه سرېږه !

چهارشنبه ▣ ۱۳ – ۱۴ مه گڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۱۳ - ۲۱۴ مه گڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د تلې ۳۰ مه ▣ ۱۴۳۵ هـ ق کال د ذوالحجې ۲۷ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د اکتوبر ۲۲ مه ▣ ۴ مخ

زېږی
پنځلس ورځنۍ جریده
د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمد اصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د مرکز
خپرنیز ارگان
پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار، کابل - افغانستان

# په لنډيو کې د ټولنيز ژوند ژور ادبي تأثرات

(۲)

څېړنپوه محمد عارف غروال

لکه په تېره لیکنه کې چې ورته اشاره وشوه، پښتو لنډۍ زموږ د خلکو د ټولنیز ژوند هراړخیز انځور وړاندې کوي، زموږ د خلکو له دیني او مذهبي عقیدو څخه نیولې تر تاریخي پېښو، مهمو جغرافیایي سیمو او ورسره ورسره د انساني مینې او خواخوږۍ پیغامونه او انځورونه له ځان سره لري او په دې توگه، موږ وینو چې هره پښتو لنډۍ له یوه خاص مناسبت سره تړاو لري او د دغه شان مناسبت د بیانولو او روښانولو له پاره په ښایسته، خوږه او رنگینه بڼه زموږ د خلکو ترمنځ سینه په سینه گرځي راگرځي او له یوې زمانې نه بلې ته د خلکو د سینو او روایتونو له لارې لار پیدا کوي.

زموږ ټولنه یوه سنتي ټولنه ده او زموږ مسلمان خلک تر بل هر څه زیات خپلو دیني روایاتو او مذهبي مقدساتو ته ارزښت ورکوي او په دې ایمان لري، چې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په واسطه د خدای جل جلاله له لوري راوړل شوی دین زموږ او د ټولو مسلمانانو له پاره نه یوازې د ارزښت او اهمیت وړ دی، بلکې د دغه مقدس دین ټول اوامر او نواهي د انسانانو له پاره ځکه په گټه دي، چې د انساني ژوند ټولې چارې سمبالوي او موږ ته دا راښیي، چې په انساني ټولنه کې د ژوند چارې د ورتگ دغه واقعیت، پښتو لنډیو ته هم لار پیدا کړې او په ډېره ښکلې او رنگینه بڼه یې په کې انعکاس موندلی دی، لکه په لاندې دوو لنډیو کې چې لیدل کېږي:

الله ورکـــــــړې مېلمســـــــتیا ده
پـه لامکـان یـې شـوې خـدای سـره رازونـه

***

بـــاد رف، رف نبـــي تـــه راغـــی
د عـــرش د پاســـه چـــې نبـــي الله تـــه ځینــه

د تاریخ په اوږدو کې، افغانانو په دوامداره توگه توره په لاس له خپل دین او وطن څخه دفاع کړې ده، د دین او وطن دغې دفاع زموږ د مسلمانو خلکو تاریخي رسالت د تاریخ پاڼو ته سپارلی او له دې لارې یې پښتو لنډیو ته هم په پراخه توگه لار موندلې او د پښتو د شفاهي ادب دغه صنف او ژانر یې هم رنگین او ښایسته کړی دی، چې د بېلگې په توگه لاندې لنډۍ په گډه سره لولو:

الله اکبـــر نـــارې ســـورې شـــوې
بیـرغ پـه لاس کـې مـې جانـان تـورې وهینـه

پورتنۍ لنډۍ په تاریخي لحاظ، موږ هغو وختونو ته له ځان سره بیایي، چې بهرنیو یرغلگرو مو پر هېواد چپاو راوړی او غوښتي یې دي، چې زموږ دیني مقدسات او ملي پېښور ته تلل او د هغه ځای په سرو گرمیو کې به یې خواري او مزدوري کوله او چې د خپلو لاسونو په تناکو به یې چې څه ترلاسه کړي وو، بېرته به خپلو کورونو ته راستانه شول، خو کله کله به داسې هم کېدل، چې په مزدورۍ پسې تللي ځوانان به یوه زیاته موده وځنډېدل او دا ځنډ به د دې لامل شو، چې د ننگرهار هغه جونه پېښور ته ښېرا وکړي، چې د دوی د ژوند ملگري د مزدورۍ له پاره ورغلي دي، لکه په لاندې لنډۍ کې چې گورو:

اخـــر بـــه وران شـــې پېښـــوره
د ننگرهـــار جونـــه ښـــېرا درتـــه کوینـــه

پورتنۍ لنډۍ د دې ترڅنگ چې پېښور او ننگرهار له یو او بل سره تړلې سیمې بولي، تلمحیاً هغه وختونه هم په ځان کې رانغاړي، چې ننگرهاري ځوانان به د مزدورۍ او نفقې پیدا کولو له پاره پېښور ته تلل.

پخوا به سوداگریزې چارې د کاروانونو په بڼه د اوښانو او نورو څارویو په واسطه ترسره کېدې او دا هغه مهال و، چې د موټرو، الوتکو او بېړیو ترانسپورت یا بېخي نه و موجود او که په کومو هېوادونو کې به موجود هم و، نو په نشت به حساب و، ځکه خو به نو سوداگر مجبور وو، د یوې سیمې تولیدات بلې سیمې ته د کاروانونو

محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنگي خبرونه

## د ۲۰۱۴ کال د ادبیاتو د نوبل جایزه

د نوبل د ۲۰۱۴ زېږدیز کال د ادبیاتو جایزه فرانسوي لیکوال پاتریک مودیانو (Patrick Modiano) وگټله. دی ۶۹ کلن او د نوبل د ادبیاتو د جایزې ۱۰۷ گټونکی دی. ورک سړی [Missing Person] د مودیانو تر ټولو زیات لوستل شوی کتاب بلل کېږي. د نوبل د ادبیاتو دا معتبره جایزه، چې څه باندې یو میلیون ډالر مادي ارزښت لري، تېر کال کاناډایۍ لیکوالې الیس مونرو (Alice Munro) ته ورکړل شوې وه. (آزادي راډیو)

*****

## په جواهر لعل نهرو پوهنتون کې پښتو څانگه پرانیستل شوه

د هندوستان د ډهلي د جواهر لال نهرو په پوهنتون کې د پښتو ژبې کورس، د دې پوهنتون د علمي شورا له لوري د یوې مستقلې څانگې په توگه تصویب او له راتلونکي کال څخه به یې عملي چارې پیل شي. د دې څانگې استاد پوهنمل محمد انور خیري وایي، دا به په بهرنۍ نړۍ کې لومړنی خپلواک پښتو دیپارتمنټ وي، چې محصلین به یې د کانکور له لارې معرفي کېږي. باید وویل شي، چې د پښتو ژبې یاد شوی کورس په ۱۹۷۳ ز کال د فرهنگي اړیکو پرینسټ رامنځ ته شوی و او اړتیا لیدل کېده، چې باید د څانگې (دیپارتمنټ) کچې ته لوړ شي.

*****

## کابل، بلخ او پېښور کې د "افغان کلتور" ورځ ونمانځل شوه

په کابل ښار په لومړي ځل د نړیوالې ورځ په توگه د "افغان کلتور" ورځ د سلگونو کسانو په گډون د تلې د میاشتې په لومړۍ نېټه ونمانځل شوه. دغه نمانځغونډه چې د پغمان غونډۍ په ماڼۍ کې د یو شمېر مدني ټولنو له لوري ترسره شوه، له پښتونخوا څخه د راغلو مېلمنو په گډون، سلگونو کسانو په کې برخه اخیستې وه. د دې ناستې د تنظیمونکو په وینا، تېر کال یو شمېر مدني کلتوري بنسټونو پرېکړه کړې وه، چې تر دې وروسته به هر کال د تلې لومړۍ نېټه، د "افغان کلتور" د نړیوالې ورځ په توگه نمانځي، ترڅو نړیوالو ته افغان کلتور په سمه بڼه ور وپېژندل شي. په دې مراسمو کې د ځینو پوهانو تر وینا وو وروسته، د افغانانو ملي لوبې، لاسي صنایع، انځورونه، کتابتونونه، عتیقه آثار هم نندارې ته وړاندې او د مشاعرې، فولکلوریک تیاتر او ټنگ ټکور پروگرامونه ترسره شول.

باید څه ډول پرمخ بوځو.

د پښتو په لاندې دوو لنډیو کې په صراحت سره دا لیدل کېږي، چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم معراج ته تللی او هلته یې تر ټولو لوړ مقام کې له خپل ستر پروردګار سره راز او نیاز کړی دی. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په دې راز او نیاز کې یو ځل بیا دا حقیقت ځان راڅرګندوي، چې مهربان خدای جل جلاله د خپلو بندګانو د هوسایۍ او پرمختګ په غرض د دوی له پاره ورلېږل شوی استازی خپل حضور ته غواړي او هلته په لامکان کې کوم هدایات او لارښوونې چې الله تعالی یې خپلو بندګانو ته د رسولو اراده لري، خپل محبوب استازي ته فرمایي او په دې ډول خپلو بندګانو ته په سمه لار د روانېدو او د خپل ټولنیز ژوند د سمبالښت په اړه لازمې لارښوونې کوي.

معراج ته د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم مقدرات له منځه یوسي، خو افغان غازیانو یې مخه نیولې او د دوی دغه شوم هدف یې له خاورو سره خاورې کړی دی او یا لاندې لنډۍ، چې زموږ د هېواد د تاریخ یوه ځلانده او له پرتم نه ډکه دوره رایادوي او هغه دا چې:

احمده خدای دې جنتي کړه
تر هندوستانه پورې تا کړې جنګونه

پورتنۍ لنډۍ د احمدشاه بابا هغه غزاګانې تلمیحاً په ځان کې رانغاړي، چې هند ته د هغه ځای د مسلمانانو په غوښتنه شوې ځلې تللی او د هندوستان مسلمانان یې د مرهټیانو له ظلم او نادودو څخه ژغورلي دي.

پېښور او ننګرهار د یو بل په ګاونډ کې موقعیت لري، د دې دواړو سیمو اوسېدونکي یوې او بلې سیمې ته ازاد تګ او راتګ کوي، پخوا به چې د ننګرهار اوسېدونکي له اقتصادي پلوه کمزوري شول، نو د مزدورۍ له پاره به په ذریعه ولېږدوي.

ځینې کاروانیان دا عادت لري، چې د اوښ او یا بل بار وړونکي څاروي د انډیو په منځ کې ځینې ضروري توکي د سرباري په بڼه کېږدي، ترڅو د را اخیستلو پرمهال خنډ او ځنډ په کې پېښ نه شي، نو له همدې سرباري نه د استفادې په غرض یوه محبوبا اټکل کوي، چې خپل مین به یې د بارونو په سرباري کې هغې ته لونګ هم له ځانه سره راوړي، ځکه نو داسې وایي:

آشنا مې نوی سوداګر دی
په سرباري کې به لونګ راته راوړینه

د پورتنیو پښتو لنډیو څو بېلګو ته په کتو سره، موږ دا نتیجه ترلاسه کوو، چې پښتو لنډۍ په ساده خو ښکلې او رنګینه بڼه هغه څه وړاندې کوي، چې زموږ د خلکو د ټولنیز ژوند له یو نه یو اړخ سره په مستقیمه او یا غیر ممستقیمه توګه تړاو ولري.

## متنپوهنه...

کوي. دغه پوهنه کله د متن بېلابېل اړخونه او کله د متن د لیکوال او ویناوال (شاعر) او د یوه متن د رامنځ ته کېدو تاریخ څېړي.

یا په بله وینا: د متن د تحقیق، تدوین، د څرنګوالي د څرګندولو، تصحیح او سمون د روشونو او اصولو مجموعې ته متنپوهنه وایي.

یا متنپوهنه هغه پوهه ده، چې د متونو د تحقیق، نقد او بیا احیاء اساسات او لارې چارې بیانوي."(۵)

"د ادب د تیورۍ اساسونه" اثر لیکوال لیکي: "متن پوهنه هغه پوهنه ده، چې په لازمو موادو کې د یوه اثر د مؤلف، د لیکلو د ځای او د عصر په تشخیص کې له څېړونکي سره مرسته کوي. د نسخو د نقد په صورت کې اصلي نسخه په ګوته کوي، په هغې کې د نورو له خوا زیاتې شوې یا اړول شوې برخې تشخصیوي او له هره حیثه یې متن کره کوي."(٦)

سرمحقق زلمی هېوادمل د کابل پوهنتون د ماسترۍ د زده کړې د دورې له پاره چمتو کړیو درسي لکچرونو کې د متنپوهنې د پېژندنې، د پیدایښت او پایښت د ارزښت او اهمیت په اړه ډېرې تفصیلي څرګندونې لري، چې ځینې برخې یې دلته په لنډیز سره رااخلو.

د تېرې پېړۍ متنپوهانو او یا له ادبپوهنې سره منسلکو کسانو د خپلې زمانې او یا پخوانیو متن څېړونکو له تجربو څخه په استفادې د متن احیاء، د ترتیب، تدوین او څېړنې د کار د ټولو پړاوونو لارې چارې (روشونو) او تجربې سره راټول کړل، هغو ته یې ترتیب او نظم ورکړ او په دې توګه یې د متنپوهنې د بحثونو بنسټ کېښود.

هغه مهال چې ادبپوهنې د ټولنیزو علومو په کورنۍ کې د یوې علمي څانګې په توګه سر راوچت کړ، نو د ادبپوهنې د درېیو اصلي څانګو ترڅنګ په نورو فرعي څانګو کې متنپوهنې هم ځای وموند او دغسې متنپوهنه د ادبپوهنې د یوې فرعي څانګې په توګه د ادبیاتو په نظري او تیوریکو بحثونو کې مطرح شوه.(۷)

لیکوال د متنپوهنې د پیدایښت او پایښت په اړه داسې څرګندونې لري:

متنپوهنه ډېره پخوانۍ نه ده او د متونو د څېړنې د پړاو له پیله را وروسته باب شوې ده. دا ځکه چې متنپوهنه د متونو د تحقیق له روشونو او لارو چارو سره اړه لري. دا لارې چارې هغه مهال پیدا شوې، چې د متونو علمي څېړنه پیل او وده یې وموندله. د متنپوهانو په باور، د متونو تحقیق او له علمي روشونو سره سم د زړو متنونو د احیاء کار په اتلسمه پېړۍ کې پیل شوی دی. په اروپا کې د زړو یوناني او لاتیني متنونو د احیاء د څېړنې له چارو سره دا لړۍ راونښلېدله او ورو ورو یې په لوېدیځ کې وده وموندله او د اروپایي زړو او مروجو ژبو د زړو متنونو د احیاء او چاپ چارې مخ په بره روانې شوې.

د نولسمې پېړۍ په جریان کې لوېدیځو ختیځپوهانو د شرقي فرهنګ د زړو متنونو مطالعه او څېړنه هم پیل کړه، د عربي، فارسي، هندي، پښتو او نورو ژبو د متنونو څېړنې او چاپ ته یې ملا وتړله، چې وروسته بیا ورو ورو د متنونو د څېړنې او د زړو متنونو د بیا احیاء چارو ختیځو هېوادونو ته هم لاره پیدا کړه. د دغو هېوادونو پوهانو هم په تحقیقي ډول د خپلو ژبو د متنونو د چمتو کولو لارې چار پیل کړې.(۸)

اخځلیکونه:


(۱) عمید، فرهنګ عمید، دویم ټوک، پنځم چاپ، تهران، انتشارات امیر کبیر، ۱۳٦۳ المریز کال، ۱۷٦ مخ.
(۲) هېوادمل زلمی، د متن څېړنې میتودولوژي، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳٦۹ ل کال، ۱۱۸ مخ.
(۳) زېور، زېورالدین (ډاکټر)، د پښتو ادبیاتو اصطلاحي قاموس، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳٦۱ ل کال، ۴۵ مخ.
(۴) د متن څېړنې میتودولوژي، ۱۱۹ - ۱۲۱ مخونه.
(۵) هېوادمل زلمی، فرهنګ ادبیاتو پښتو، درېیم ټوک، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، کابل، ۱۳٦٦ ل کال، ۱۸٦ مخ.
(٦) شینواری، دوست (سرمحقق)، د ادب تیوري اساسونه، د چاپ او خپرونو دولتي کمېټه، کابل، ۱۳٦۵ ل کال، ٦ مخ.
(۷) هېوادمل زلمی، د متن څېړنې لکچرونه، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د ماسترۍ پروګرام، ۴ مخ.
(۸) ښکلی، اجمل، سبکپوهنه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۰ ل کال، ۲۵ مخ.


دغه راز د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې هم، په لومړي ځل "افغان کلتور" د نړیوالې ورځې په توګه د سلګونو کسانو په ګډون د پرتمینو مراسمو په ترڅ کې ونمانځل شوه.

د پښتونخوا په مرکز پېښور ښار هم، د "افغان نړیوالې کلتوري ورځ" تر نامه لاندې د افغان کلتور دوه ورځنی جشن ترسره شو، چې له پاکستان او افغانستان سربېره د نړۍ له ځینو نورو هېوادونو هم، ګڼ شمېر افغانانو په کې برخه اخیستې وه. دغه کلتوري جشن، چې د تلې د میاشتې په ۲٦مه او ۲۷مه ترسره شو، د" پاک افغان ولسي تړون" په نوم مدني ټولنې له خوا جوړ شوی و او په کې د مشاعرو، افغاني موسیقۍ، اتڼ، لاسي صنایعو او کتاب نندارتونونو او ګڼ نور تفریحي پروګرامونه ترسره شول.

*****

## په زابل او هلمند کې اختریزې مشاعرې وشوې

د زابل په مرکز کلات کې د غزل شپې په نامه مشاعره د لسګونو شاعرانو په ګډون د تلې د میاشتې په ۱۵مه جوړه شوه. دغه مشاعره چې د ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په نوښت جوړه شوې وه، ډېرو شاعرانو په کې خپل شعرونه په ترنم سره ولوستل.

همداراز د هلمند په مرکز لښکرګاه کې د دغه ولایت د لسګونو شاعرانو له خوا اختریزه مشاعره د تلې ۱۴مه جوړه شوه. د دې مشاعرې د جوړېدو چارې د "ژوند ادبي او فرهنګي ټولنې" د مسوولینو له خوا پر مخ وړل کېدې، چې د لښکرګاه ښار په فرهنګي مرکز کې جوړه شوې وه. د یادې ټولنې مشر مولوي عبدالهادي عمري په وینا، مشاعره د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د دوی د ټولنې او یو شمېر نورو ادیبانو په مرسته جوړه شوې وه، چې شاعرانو په کې خپل شعرونه وړاندې کړل. نوموړي د مشاعرې د موخې په اړه وویل، دا چې په کلنۍ دوديزه مشاعرو کې سیمه ییزو شاعرانو ته پوره وخت نه ورکول کېږي، نو په دې مشاعره کې د هغوی د شعرونو اورېدو ته پاملرنه کېږي او بله دا چې د دې ولایت د بېلابېلو د ولسوالیو د شاعرانو ترمنځ پېژند ګلوي وشي.

*****

## سلیمان لایق: د ادب پر هسک، اووه ځلاندې لسیزې

دا د هغې ادبي نمانځغونډې سرلیک و، چې د اکاډمیسین سلیمان لایق د تېرو اووه لسیزو د ادبي او هنري هڅو په ویاړ د افغانستان قلم ټولنې له لوري په کابل ښار کې د تلې د میاشتې په ۲٦مه جوړه شوې وه. په دې غونډه کې چې لسګونو فرهنګیانو، ادیبانو او لیکوالو په کې برخه اخیستې وه، هوسۍ لایق، عبدالغفور لېوال، پرتو نادري، استاد عبدالله بختاني خدمتګار، استاد سعدالدین شپون، غلام نبي فراهي او محمد نبي صلاحي د سلیمان لایق د ادبي او هنري هڅو په اړه مقالې ولوستې او ویناوې یې وکړې. سږکال د لایق د زوکړې ۸۴مه کالیزه وه. نوموړی په پښتو او دري ژبو ګڼ شمېر شعري او نثري آثار لري، چې د ځینو نومونه دادي: چونغر، بادبان، کېږدۍ، سپرغکې، یادونه درمندونه، ساحل، سنډرې په سویو واټونو کې، شپېلۍ، سمت روش جاده ها، د اباسین سپېدې، د مریانو سرود (ناچاپ)، عقاب ګمشده (ناچاپ)، مردی از کوهستان (ناچاپ).

****

## د افغانستان د تیاتر اتم ملي جشن جوړ شو

د افغانستان د تیاتر اتم درې ورځنی ملي جشن د ۱۳۹۳ کال د تلې د میاشتې له ۲٦ نه تر ۲۸ پورې په کابل ښار کې ترسره شو. دا ملي جشن، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، ګویټه انستیټوت، آغا خان بنسټ، کابل تیاتر، د فرهنګ او مدني ټولنې بنیاد، د افغانستان ملي راډیو تلویزیون او ځینو نورو بنسټونو په ګډه مرسته جوړ شوی و، په کې د بېلابېلو ولایتونو د تیاتر یو شمېر نومیالیو هنروالو او مینه والو ګډون کړی وو. د جشن پرانیست غونډه د تلې په ۲٦ د ملي تیاتر (کابل ننداري) په تالار کې ترسره شوه. د دې جشن نمایشنامې هره ورځ د سهار له ۸ بجو نه د مازیګر تر ۵ بجو پورې په ملي تیاتر (کابل ننداري) کې ترسره کېدې. په دې جشن کې ۱۵ ننداري د "هنرمند بی کفن، د ګلونو ښاپېرۍ، فساد اداري، تضاد، نیمه رخ دیګر، ځانمرګی، کیفر، دلاوران، رییس جمهور، شیری که نمی توانست بنویسد، نور بندک مه خواستګاری میرود، کالیګولا، خشونت، تا رهایی او تنهای ګم شده و خرس" په نومونو لیدونکو ته وړاندې شوې.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.